د افغانستان اسلامي امارت
د ارشـــــاد، حـــــج او اوقافـــــو وزارت
د مساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست
دجمعې ورځې د خطابت موضوع او
لیکلی تقریر اوبیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو
ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.

۱۰/ رمضان المبارک /۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۸/ حوت/۱۴۰۴هـ، ش

# د رمضان المبارک په میاشت کې ستر فتوحات، او عبرتناک تاریخي واقعات

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الحمد لله المتفضل بالجود والإحسان ، و أنعم علينا بإنزال القرآن هدى للناس وبينات من الهدى والفرقان ، ونصر نبينا محمدا صلى الله عليه وسلم وأصحابه ببدر ، وسماه يوم الفرقان ، وأعزه بفتح مكة وتطهيرها من الأصنام والأوثان، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له الملك الرحيم الرحمن ، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله أرسله بالهدى ودين الحق ليظهره على جميع الأديان صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه الذين نصروه ، فهم نعم الأنصار ، ونعم الأعوان ، وعلى التابعين لهم بإحسان ما توالت الدهور والأزمان ، وسلم تسليما،أما بعد:قال الله سبحانه وتعالى: ( وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ). العنكبوت: (٦٩)

**درنو حاضرینو !**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

رمضان المبارک لکه څرنګه چې د ایمان او تقوی میاشت ده همداسې د قرآن کریم او جهاد میاشت هم ده.
ځینې خلک داسې فکر کوي،چې د رمضان المبارک میاشت د خوب میاشت ده او داسې خلک د شپې هم ویده وي او ورځ هم په خوب باندې تیره وي.
داسې نه ده ، بلکې د رمضان المبارک د قربانیو او سربښندنو میاشت ده، درمضان المبارک میاشت د سخاوت او ښیګڼو میاشت ده، رمضـان المبارک میاشـت د جهاد او دمجاهدې میاشـت ده، رمضـان المبارک میاشـت د کفارو سره د جهاد ، د نفس سره مجاهدې او دنفسي- خواهشـاتو سره د مبارزې میاشـت ده.اسـلامي تاریخ ګواه دی چې اکثره غزوات، انتصارات او فتوحات مسلمانانو د رمضان المبارک په میاشت کې کړي دي .
رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې باندې حریص ؤ، چې زیات غزوات د رمضان المبارک په میاشت کې وکړي الله تعالی ته د قُرب او نزدیکت حاصلولو په خاطر او ددې لپاره چې صحابه کرامو ته وښایې چې مسلمان په هر وخت کې د هرې سختۍ سره د مقابلې لپاره باید اماده وي او په روژه کې هم باید هر ډول سخته تحمل کړي، د رمضان په میاشت کې غزا کول هغه حالت دی، چې مسلمان په یو سفر کې دوه ډوله عبادتونه اداء کوي ؛ یو د روژې نیولو عبادت او بل د دجهاد په نیت سفر ، او کله چې مسلمان په دا دواړه عبادتونه په یوه میاشت کې یوځای کړي، او د جهاد په سفر کې روژه په خوله په دغه حالت کې د شهادت جام وڅښي ، نو د الله تعالی سره به په داسې حال کې ملاقي شي، چې دی به روژه دار وی.

کله به چې نبي علیه السلام او صحابه کرامو رضي الله عنهم د رمضان المبارک په میاشت کې غزا ته وتل ، نو چا به روژه نیوله او چا به روژه نه نیوله ماتوله او صحابه کرامو به روژه نیول یا روژه نه نیول کوم عیب نه ګڼلو ، خو چې کله به ددښمن سره د مخامخ کیدو وخت راغی، نبي علیه السلام به صحابه کرامو ته وویل: چې اوس دښمن رانږدې شوی دی او روژه ماتول ستاسې د لازیات قوت لامل ګرځي، بیا به صحابه کرامو روژه ماته کړه.

په یو روایت کې راځي: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضى الله عنه -قَالَ كُنَّا نَغْزُو مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فِي رَمَضَانَ فَمِنَّا الصَّائِمُ وَمِنَّا الْمُفْطِرُ فَلاَ يَجِدُ الصَّائِمُ عَلَى الْمُفْطِرِ وَلاَ الْمُفْطِرُ عَلَى الصَّائِمِ يَرَوْنَ أَنَّ مَنْ وَجَدَ قُوَّةً فَصَامَ فَإِنَّ ذَلِكَ حَسَنٌ وَيَرَوْنَ أَنَّ مَنْ وَجَدَ ضَعْفًا فَأَفْطَرَ فَإِنَّ ذَلِكَ حَسَنٌ). صحيح مسلم (٣ /١٤٣)

ژباړه: د حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایې: وو مونږه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ملتیا کې به مو د رمضان المبارک په میاشت کې غزا کوله ، نو زمونږ څخه ځینې کسان داسې وو چې هغوی به روژه نیوله او ځینې کسان داسې وو چې هغوی به روژه نه نیوله. روژه دار به په روژه ماتوونکي باندې کومه ملاحظه نه درلوده او نه به روژه ماتوونکي په روژه باندې کومه ملاحظه درلودله. د صحابه کرامو نظر دا وو چې چې څوک توان لري او روژه یې ونیوله ، نو دا نیک کار دی او که څوک کمزوری وي او روژه یې ماته کړه ، نو دا هم ښه کار دی.

په یو بل روایت کې راځي ابو سعید خدري رضي الله عنه وفرمایل: مونږ د مکې مکرمې د فتحې لپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره سفر وکړ، په داسې حال کې چې مونږ روژه وو، نو مونږ په یو ځای کې واړول ، بیا نبي علیه السلام وفرمایل: تاسې دښمن ته نږدې شوي یاست او روژه ماتول ستاسو د(جسمي) د زیات قوت لامل دی،نو مونږ ته د روژې نیولو او نه نیولو په اړه رخصت وو ، نو چابه روژه نیوله اوچا به نه نیوله بیا مونږ یو بل ځای ته ورسیدو،نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: تاسې به صبا ددښمن سره مخامخ کیږی ، نو روژه ماتول ستاسو لپاره د زیات قوت لامل دی ، نو روژه ماته کړئ. صحيح مسلم (٣ /١٤٤)

همدا رنګه رمضان المبارک د سستی او تنبلۍ میاشت نه ده، بلکې روژه دمیړانې میاشت ده. زمونږ د سیرت او تاریخ کتابونه ددې څخه ډک دي، چې زیات غزوات مسلمانانو د رمضان المبارک په میاشت کې ترسره کړي دي او الله تعالی په مسلمانانو خصوصي احسان کړی دی او په سختو شرائطو او مشکلو حالاتو کې یې فتوحات او کامیابي دمسلمانانو په برخه کړي ده.

مونږ غواړو چې نن ورځ د هغو غزواتو او فتوحاتو یادونه وکړو چې مسلمانانو د رمضان المبارک په میاشت کې کړي دي او بیا فتوحات الله تعالی د مسلمانانو په برخه کړي دي ، ترڅو پوهه شو چې دا دین په اسانه تر مونږ نه دی را رسیدلې او هم د فتوحاتو په اسبابو ، حکمتونو او رازونو پوهه شو.

د رمضان المبارک په میاشت کې سترې واقع شوې غزاګانې او فتوحات په لاندې ډول دي:

**۱-د بدر غزا:** د بدر غزا په اسلامي غزواتو کې لومړنۍ فیصله کوونکې غزا ده ، چې د رمضان المبارک په ۱۷ تاریخ او د هجرت په دوهم کال د بدر په مقام کې پیښه شوه.

د بدر په غزا کې د مسلمانانو تعداد درې سوه او دیارلس(۳۱۳) زیات او کم کسان وو ، د مسلمانانو سره دوه کسان په آسونو سپاره او اویا(۷۰) اوښان ورسره ؤ او د کفارو تعداد زر(۱۰۰۰) کسان ؤ، چې دوه سوه(۲۰۰) کسان په آسونو سپاره وو .

مسلمانانو په دې غزا کې داسې میړانه وښودله چې په تاریخ کې مثال نلري. الله تعالی د بدر په غزوه کې د مسلمانانو سره مرسته وکړه او د مسلمانانو د مرستې لپاره یې زر (۱۰۰۰) ملائکې راولیږلې، چې د مسلمانانو سره په څنګ د مشرکینو په مقابل کې جنګیدلې ، لکه چې الله جل جلاله فرمایلي دي:(إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُم بِأَلْفٍ مِّنَ الْمَلآئِكَةِ مُرْدِفِينَ * وَمَا جَعَلَهُ اللّهُ إِلاَّ بُشْرَى وَلِتَطْمَئِنَّ بِهِ قُلُوبُكُمْ وَمَا النَّصْرُ إِلاَّ مِنْ عِندِ اللّهِ إِنَّ اللّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ).الانفال:(۱۰)

ترجمه: (یاد کړئ) هغه وخت چې استغاثه به کوله تاسې رب خپل ته نو الله ستاسو اتغاثه قبوله کړه لپاره د (فریاد) ستاسې، چې بېشکه زه مرسته کوونکی یم له تاسې سره په زرو تنو له پرښتو ځنې یوه په بلې پسې راتلونکې. او نه وه ګرځولې (نه وه ورکړې) دغه(مرسته) الله مګر (ورکړې یې وه فقط) لپاره د دې چې زېری شي (د نصرت) او لپاره د دې چې مطمئن (آرام) شي په دغې مرستې سره زړونه ستاسې او نه ده مرسته مګر ( خو ده) له جانبه د الله بېشکه الله ښه غالب قوي دی (د احکامو په انفاذ) ښه حکمت والا ( چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي).

د بدر په غزا کې الله تعالی فتح د مسلمانانو په برخه کړه او د قریشو سرلښکر او ددې امت فرعون ابوجهل په کې ددوه تنکیو ځوانانو له خوا، معاذ او معوذ چې د عفراء زامن ؤ لومړی سخت ټپي شو او وروسته عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ووژلو او سر یې ورځخه پرې کړ او د هغه سر یې داطمینان لپاره د نبي علیه السلام حضور ته راوړلو. البدایة والنهایة (٣ /٢٨٨)

د بدر په غزا کې د کفارو څخه اویا (٧٠) کسان مردار کړل شول او اویا (٧٠) کسان ورڅخه مسلمانانو اسیران ونیول او د مسلمانانو څخه یواځې دیارلس یا څوارلس کسانو د شهادت جام وڅښلو.

د بدر دغزا په اړه الله تعالی فرمایلي دي:(وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنْتُمْ أَذِلَّةٌ فَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ) آل عمران: (١٢٣)

ترجمه: او خامخا په رښتیا سره الله په بدر کې ستاسو مدد کړی دی، حال دا چې تاسو ډېر کمزوري (او لږ) وئ، نو له الله نه ووېرېږئ، د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ. السیرة النبویة لابن کثیر (٢ /٤٦٥)

**د بدر د غزا عبرتونه او پندونه:**

١-د بدر په غزوا کې د اسلامي امت لپاره روښانه انځور وړاندې کړل شو او هغه دا چې په نړۍ کې دوه ډلې دي چې یو پر حق ولاړه او دحق طرفداره ډله ده، چې مسلمانان دي او بل د باطل ډله ده چې هغه کفار او مشرکان دي.

٢-د بدر غزوا د راتلونکو غزاګانو لپاره د اساس تیږه وه او داسلام د نشرولو لپاره لومړنی پُل ؤ او د مسلمنانو د قوت د اظهار لپاره لومړنی موقف ؤ.

٣-حقیقي فتحه او نصرت د اسبابو او اشخاصو په کثرت پورې تړلې نه ده ، بلکې نصرت او فتحه د الله تعالی له خوا ده او د هغه په توفیق او مرستې سره ترلاسه کیږي او نصرت او فتحه الله جل جلاله ته په تضرع ، عاجزی، د کمزورۍ په اظهارولو سره او په دعاء کې په الحاح کولو سره ترلاسه کیږي.

٤-د بدر په غزوا کې زبرځواک وځپل شو او د سرکشۍ، طغیان ښکر مسلمانانو مات کړ، باطل دفن کړل شو او الله تعالی د خپلې ډلې تائید وکړ او هغوی یې پر دښمن کامیابه کړل.

**٢- د مکې مکرمې فتحه:** د هجرت په اتم کال مسلمانان مکې مکرمې ته فاحین داخل شو . د مکې مکرمې د غزا لامل دا وو ، چې قریشو د حدیبیې صلحه نقض کړه ، هغه میثاق اوصلحه، چې قریشو له مسلمانانو سره د حدیبیی په مقام کې کړی وه. چې له مسلمانانو سره یې تړلې وه.

د حدیبیې په صلحه کې یوبند دا ؤ، چې ( که څوک وغواړي چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په معاهده کې داخل شي او یا که څوک وغواړي چې د قریشو په معاهده کې داخل شي، کولای شي او په دې کې به کوم ممانعت نه وي. همدارنګه کومه قبیله چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سره ملګرې شي د هغه له ملګرو څخه به حسابیږي او که کومه قبیله وغواړي چې د قریشو سره ملګرې شي ؛ نو هغوی به د قریشو څخه حسابیږي او که څوک په هغه قبیله تجاوز وکړي، چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم یا دقریشو سره ملګري شوې وي، نو دا به د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په ټولو ملګرو تجاوز حسابیږي او کومه قبیله چې د قریشو سره ملګرې شوي وي ، په ضم شوې قبیلې باندې تجاوز وکړي دا به په قریشو باندې تجاوز حسابیږي.) الرحیق المختوم (ص: ٣٧٣)

ددې بند په اساس د خزاعه قبیله د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یوځای شوه او بنو بکر د قریشو سره یوځای شوه او ددوی دواړو له مخکې څخه په خپلو منځو کې دښمني موجود وه.بنو بکر په خزاعه قبیلې باندې حمله وکړه ځینې کسان یې ووژل او ددواړو قبیلو ترمنځ جګړه واقع شوه او قریشو د بنو بکر قبیلې سره د سلاح مرسته وکړه او د شپې له خوا یې د مرستې لپاره سـړي هم ور ولیږل او خزاعه قبیله اړ شـوه چې په مکي حرم کې پناه واخلي او په مکي حرم کې یې د بُدَیْل بن وَرْقَاء الخزاعي په کور کې او د رافع چې د بدیل قبیلې آزاد کرده ؤ پناه واخیستله . عمرو بن سالم الخزاعي د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ملاقات لپاره مدینې منورې ته په داسې حال کې راغی چې نبي علیه السلام په مسجد نبوي کې د خلکو په منځ کې ناست ؤ.

همدارنګه بُدَیْل بن وَرْقَاء الخزاعي هم د ځینو کسانو سره یوځای د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ملاقات لپاره مدینې منورې ته راغی او نبي علیه السلام یې د ټولې واقعې څخه خبر کړ او بیا واپس مکې مکرمې ته لاړ او رسول الله صلی الله علیه وسلم په مدینه منوره کې صحابه کرام د قریشو د صلحې د میثاق د ماتولو څخه خبر کړل.

د رمضان المبارک د میاشتې شل ورځې تیرې شوې وې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د لس زره (۱۰۰۰۰) صحابه کرامو په ملتیاسره د مکې د فتحې لپاره د مکې مکرمې په لور حرکت وکړ او په مدینه منوره کې یې أبارُهْم الغفاري خپل ځای ناستې مقرر کړ. الاکتفاء بما تضمنه من مغازي رسول الله والثلاثة الخلفاء، للکلاعي (۲/ ۱۹۲)

بالآخره د رمضان المبارک په میاشت کې د جمعې په ورځ نبي علیه السلام په داسې حال کې مسجد الحرام ته ورداخل شو چې صحابه کرام د نبي علیه السلام څخه ګیر چاپیره ، مخکې او وروسته روان وو او د نبي علیه السلام ملګرتیا یې کوله ، نبي علیه السلام په خورا زیاته عاجزۍ سره مکې مکرمې ته دخال شو او نبي علیه السلام لومړی د حجر الاسود خواته ورغی او د هغې استلام یې وکړ او بیایې د بیت الله څخه طواف په داسې حال کې وکړ ، چې په اوښه سپور ؤ.

د نبي علیه السلام په لاس کې لیندی وه او د کعبې شریفې څخه ګیر چاپیره درې سوه او شپیته بُتان درول شوي وو ، نبي علیه السلام به هر یو بُت په لیندی وهلو او هغه به یې ښکته را غورزول او دا مبارک آیت یې تکرارولو:(وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا).الاسراء:(۸۱) ترجمه: ووایه ! (د مکې اوسیدونکو ته) چې راغی حق (اسـلام) او محوه شـو باطل، بېشکه باطل له منځه تلونکی دی.مغازي الواقدي (ص: ۸۹۰) الرحیق المختوم (ص: ۳۸۳)

رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله مکه فتحه کړه ، نو د مکې اوسیدونکو ته یې په خطاب کې وفرمایل: (مَا تَقُولُونَ إِنِّي فَاعِلٌ بِكُمْ؟ قَالُوا خَيْرًا، أَخٌ كَرِيمٌ وَابْنُ أَخٍ كَرِيمٍ، فَقَالَ أَقُولُ كَمَا قَالَ أَخِي يُوسُفَ: لا تثريب عليكم الآيَةَ، اذْهَبُوا فَأَنْتُمُ الطُّلَقَاءُ) وَقَالَ أَنَسٌ هَبَطَ ثَمَانُونَ رَجُلًا مِنَ التَّنْعِيمِ صَلَاةَ الصُّبْحِ لِيَقْتُلُوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُخِذُوا فَأَعْتَقَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى (وَهُوَ الَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ).کتاب الشفا بتعریف حقوق المصطفی القاضي عیاض (۱/ ۱۱۰)

ژباړه: تاسو څه فکر کوی، چې زه به له تاسو سره څرنګه معامله کوم؟ هغوی وویل: مونږ فکر کوو، چې ته به له مونږ سره نیک چلند وکړی، ځکه ته زمونږ مهربانه ورور یې او زمونږ دمهربانه ورور زوی یې. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زه تاسو ته هغه خبره کوم، کومه خبره چې زما ورور یوسف علیه السلام خپلو ورونو ته کړی وه زه درته وایم چې{لاَ تَثْرَيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ يَغْفِرُ اللهُ لَكُمْ }(هیڅ ملامتیا په تاسو نن ورځ نشته الله دې تاسو ته ښښنه وکړي) ځئ لاړشئ تاسو آزاد یاست.

حضرت انس رضي الله عنه وايي د تنعيم څخه اتيا کسان دسهار لمانځه پروخت رابښکته شول، ترڅو رسول الله صلی الله علیه وسلم، ترور کړي، مگر مسلمانانو ونیول، رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی ته هم عفوه وکړه او هغوی یې آزاد کړل، نو دا آيت مبارک نازل شو: (وَهُوَ الَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ).
ترجمه: الله تعالی هغه ذات دی چې منع یې کړل لاسونه (د تنعیم د خلکو) ستاسو څخه .
د مکې مکرمې د فتحې له امله زیات خلک په اسلام کې داخل شول، چې په هغوی کې قومي مشران، جنگي قوماندانان، ابوسفیان او د هغه ښځه هند بنت عتبه، عکرمه بن ابي جهل ، صفوان بن امیه او د ابوبکر صدیق رضي الله عنه پلار ابوقحافه هم شامل ؤ.او د مکې د فتحې څخه وروسته د مسلمانانو بشري  قوت نور هم زیات شو .
**د مکې مکرمې د فتحې درسونه او عبرتونه:**
۱-تولې قرباني، زحمتونه او کړاوونه، چې مسلمانان یې د الله تعالی ددین په لاره کې گالي ، یوه داسې ورځ راتلونکې ده چې کامیابي به د حق وي او باطل به له منځه ځي او د ځمکې د مخ څخه به محوه کیږي.
۲-پرته د اسلام څخه نصرت او فتحه نشته او پرته له درستې بنده گۍ څخه اسلام نشته او بنده گي پرته له قربانۍ او د جهاد في سبیل الله څخه واقعي شتون نلري.
۳- فتحه او نصرت حق لره ده.
۴-د مکې مکرمې په فتحه کې د عفوې اهمیت پروت دی، نبي علیه السـلام هغه خلک وبښـل چې د چا د لاسـه یې مدینې منورې ته هجرت کړی ؤ او سره د قدرته یې هغوی ته په احسنه الفاظو عفوه او بښنه وکړه او حتی هغو اتیا کسانو ته یې عفوه وکړه چې په دغو شپو کې د تنعیم څخه د نبي علیه السلام د ترور لپاره راغلي وو او مسلمانانو ونیول، خو بیا هم نبي علیه السلام ورته عفوه وکړه.
**۳-د اندلس فتحه:** د اندلس فتحه په اسـلامي تاریخ کې خورا سـتره پېښـه ده، اندلس ته مسـلمانان د هجرت په ۹۲کال د رمضان المبارک په اته ویشتم تاریخ کې اندلس ته داخل شول. موسی بن نصیر رحمه الله د طارق بن زیاد تر قوماندې لاندې نور لښکر د جبل طارق د مرستې لپاره د اندلس د فتح کولو لپاره ور ولېږه.
طارق بن زیاد یوه خوږه بلیغه وینا وکړه او مجاهدین یې جهاد ته وهڅول، چې په برکت یې اندلس په رمضان کې فتح شو. کله چې مجاهدین له بحر څخه تیر شول داسلام سپه سالار طارق بن زیاد کشتۍ وسوزولې او مجاهدینو ته یې وویل: «البحر من ورائکم والعدو أمامکم» بحر ستاسې تر شا او دښمن مو مخې ته دی، جگړه پیل شوه، مسلمانانو قرطبه، غرناطه اود اندلس مرکز طلیطله فتح کړل چې بالاخره مسلمانانو ټول اندلس فتح کړ  او تریباً (۸۰۰)اته سوه کاله د مسلمانانو تر واکمنۍ لاندې ؤ ، چې مسلمانانو په اندلس کې داسې ثقافتي ، علمي او تجربوي جامعې جوړې کړې چې په هغه وخت کې ورسره هیڅوک اشنا نه ؤ. مرآة الجنان وعبرة اليقظان في معرفة حوادث الزمان (۱/ ۹۲)
**۵-د اندلس د زلّاقه فتحه:**

همدا راز په ۴۷۹ هجري کې د جمعې په ورځ د رمضان المبارک په ۲۵ تاریخ په اندلس کې د زلّاقه واقعه پیښه شوه .په دې جگړه کې د مسلمانانو سر لښکر یوسف بن تاشفین ؤ او دا جگړه د نصاراوو او فرنگیانو سره وه چې مشري یې د قشتالې پاچا فونس کوله.  الله تعالی په دې جگړه کې  فتح د مسلمانانو په نصیب کړه او فرنگیانو شکست وخوړلو. مشهور مؤرخ ابن الاثیر لیکي:(وجعل المسلمون من رؤوس القتلى كوماً كثيرةً، فكانوا يؤذنون عليها إلى أن جيفت فأحرقوها). الكامل في التاريخ (٤/ ٣٢٤)

مسلمانانو د کفارو سرونه راټول کړل او يو ډيرى يي ور څخه جوړ کړ او د هغه ډيري د پاسه به يې اذان کولو تر دې چې بدبويه شول او بيايې وسيزل.

٦- **د عموريه فتحه:** په ۲۲۳ هـ کال کې د روم پاچا «تيوفيل بن ميخائيل» غوښتل چې د مسلمانانو پر سيمو بريد وکړي، په ځانګړي ډول هغه مهال چې خبر شو چې د مسلمانانو لښکرې په اذربايجان کې په فتوحاتو بوختې دي. هغه ډېر پوځ راټول کړ او د سل زره(۱۰۰۰۰۰) رومي عسکرو سره د مسلمانانو ضد جګړې لپاره ميدان ته راووت.

«تيوفيل بن ميخائيل» د «زبطرة» کلا ته داخل شو او هلته يې ماشومان او زاړه ووژل، ښارونه يې وران کړل، ښځې يې اسيرانې کړې، پر عزتونو يې تېرى وکړ او له مسلمانانو سره يې سخت ظلمونه ترسره کړل. د اسير شوو ښځو له ډلې يوې ښځې چيغه کړه او ويې ويل: «وامعتصماه!» (اې معتصمه!). کله چې دا خبر د مسلمانانو خليفه «المعتصم بالله» ته ورسېد، ډېر په قهر شو او ويې ويل: «لبيک!» (زه درته حاضر يم). هغه سمدستي د پوځ چمتو کول پيل کړل، لښکر يې تيار کړ او د مسلمانانو د مرستې لپاره راووت. لومړى يې د دجلې سيند لوېديځ لوري تم ځاى وټاکه.

معتصم بالله «عجيف بن عنبة» او «عمرو الفرغاني» د زبطرة د مسلمانانو مرستې ته واستول، خو کله چې هغوى زبطرې ته ورسېدل، روميان له ډېرو جنايتونو وروسته تللي وو. سره له دې، معتصم پرېکړه وکړه چې د روم پوځ تعقيب کړي او بېرته ستانه نه شئ.

هغه د روم خاورې ته ورننوت او د هغوى د تر ټولو د قوي کلا پوښتنه يې وکړه. ورته وويل شول چې د روميانو قوي قلا هغه «عموريه» ده، داسې کلا چې تر دې مخکې هېڅ مسلمان قومندان نه وه نيولې، او د روميانو په نزد له قسطنطنيې هم ډېره ارزښتناکه وه.نو اميرالمؤمنين معتصم بالله د همدې ښار د نيولو امر وکړ.

که څه هم نجوميانو معتصم بالله وويرولو او ورته يې وويل:«په کتابونو کې مو ليدلي چې عموريه په دې وخت کې نه فتح کېږي، بلکې د انځر او انګورو د پخېدو په موسم کې فتح کېږي.»خو معتصم بالله د هغوى خبرو ته پام ونه کړ او د خرافاتو پروا يې ونه کړه.

معتصم بالله د«سيحان»د سيند په غاړه ولاړ ؤ، او خپل قومندان«الإفشين» ته يې امر وکړ چې د«الحدث» له لارې د روم خاورې ته داخل شي، او «أشناس» ته يې وويل چې تاسو د «طرسوس» له لارې ور ننوځئ، معتصم جنګياليو ته وويل:چې مونږ به په فلانى ورځ په «انقره» کې سره راټوليږو، ټولې لښکرې په انقره کې سره راټولې شوې او بيا عموريې ته روان شو. معتصم بالله پوځ داسې تنظيم کړ: خپله په منځ (قلب) کې ؤ، افشين يې په ښي اړخ (ميمنه) او «اشناس» يې په چپ اړخ (ميسره) کې وټاکل.اسلامي لښکر ښار سخت کلابند کړ، تر دې چې د ښار په دېوالونو کې يې سوري جوړ کړل او مجاهدين د سوريو له لارې ښار ته ننوتل او په مېړانه يې جګړه وکړه، تر څو ښار يې ونيو او پر روميانو يې برى وموند.

معتصم بالله د رمضان مياشتې په شپږمه نېټه، د جمعې په ورځ، د عموريې قلا، کلابنده کړه.

په دې ډول د روميانو له سختو کلاوو څخه يوه مهمه کلا ونيول شوه. دې بريا د مسلمانانو مورال لوړ کړ، فتوحات يې اسانه کړل او د روميانو روحيه يې کمزورې کړه. همدارنګه، ځينو روميانو اسلامي ژوند وليد، د مسلمانانو له اخلاقو او د دين له عدله متأثر شول او اسلام يې ومانه. الکامل في التاريخ (۳/ ۱۹۷)

**۷-د عین جالوت فتحه:**د عین جالوت جګړه د ٦٥٨ هـ کال د رمضان میاشتې په ۲۵مه، د جمعې په ورځ ر امنځ ته شوه.

کله چې تاتاریانو (مغولو) د شام سیمې ونیولې او اسلامي هېوادونه یې تر سخت فشار لاندې راوستل، نو له مصر پرته بل داسې ځواک نه و پاتې چې د هغوی مخه ونیسي. له همدې امله د مصر سلطان «الملك المظفر قطز» له امیرانو او مشرانو سره سلا وکړه تر څو لښکر چمتو کړي او د دښمن پر وړاندې ودرېږي. هغوی ډېر سرتېري او آسپ سواران راټول کړل او له قاهرې څخه په شان او شوکت ووتل.د تاتاریانو د لښکرو مشري «کتبغا نوین»کوله . دواړه لښکرې د «عین جالوت» په سیمه کې، د بنی عارم په دښته کې سره مخامخ شوې. کله چې جګړه پیل شوه، سلطان «قطز» خپله خولۍ پر سر کړه او پخپله یې برید وکړ. مصري لښکر او بحري امیرانو په مېړانه سره حمله وکړه او تاتاریان یې سخت مات کړل، «کتبغا» په همدې جګړه کې ووژل شو.

په دې جګړه کې ډېری تاتاریان ووژل شول، او هغه کسان چې تښتېدل، د مصري لښکر له خوا به تعقیبیدل، د تعقیب مشري امیر رکن الدین «بیبرس» کوله، هغه تښتېدلي تاتاریان تعقیب کړل، ځینې یې ووژل او ځینې یې بندیان کړل.

په همدې وخت کې د هولاکو له خوا شاوخوا دوه زره کسیزه مرسته د «کتبغا » مرستې ته روانه وه، خو کله چې د «حمص» ښار ته ورسېده، مصري لښکرو ورباندې حمله وکړه او ټول یې لمنځه یوړل.

یوځل د جګړې په سختو شېبو کې مسلمانان د سختی سره مخ شول او کمزوري شول، نو سلطان «قطز» خپله خولۍ وغورځوله او په لوړ غږ یې وویل: «وا اسلاماه!» (اې اسلامه!) او بیا یې حمله وکړه، الله تعالی مسلمانانو ته بری ورکړ او تاتاریان مات شول. همدارنګه کله چې تاتاریان په دوهم ځل هم مات شول، «قطز» له آس څخه کوز شو، خپل مخ یې پر ځمکه کېښود، سجده یې وکړه او د شکر دوه رکعته لمونځ یې ادا کړ، بیا بېرته جګړې ته ستون شو.
ابن کثیر لیکي چې د جګړې پر مهال د قطز آس ووژل شو، خو هغه پر ځمکه ولاړ پاتې شو او جګړه یې پرېنښوده. یوه امیر خپل آس ورته ورکړ، خو قطز وویل: «زه نه غواړم چې مسلمانان ستا له ګټې بې برخې شي.» او ویې ویل: «که زه ووژل شم، جنت ته ځم؛ خو اسلام یو رب لري چې هغه به یې نه ضایع کوي.»
دغه جګړه د اسلامي تاریخ له سترو او برخلیک ټاکونکو جګړو څخه وه، چې په پایله کې یې او ددې جګړې له برکته مصر او دشام دولتونه دمسلمانانو تر حاکمیت لاندې راغلل او مسلمانان د مغولو له ظلمونو او تسلط څخه نجات وموند. البدایة والنهایة (۱۳ /۲۲۰)
**۸-د حطین فتحه او د بیت المقدس آزادول:**
دا جګړه د رمضان په میاشت کې په ۵۸۳هـ کال کې د صلیبیانو پر ضد وشوه. د فرانسې پاچا «نهم نمبر لویس » د شاوخوا یو سل او لس ( ۱۱۰) زره سرتېرو په مشرۍ، چې په جدیدو وسلو سمبال وو، مصر ته راغی.

د «البحر الصغیر» پر غاړه د مسلمانانو او صلیبیانو ترمنځ سخته او درنه جګړه پیل شوه ، په دې جګړه کې د اسلام سترو علماوو او مشائخو او بزرګانو هم ګډون کړی ؤ ، د مسلمانانو د معنویاتو او روحیاتو د لوړولو لپاره داسلام ستر عالم او مجتهد العز بن عبد السلام مهم ګډون کړی ؤ ، چې په پایله کې مسلمانان پر صلیبیانو غالب شول او الله تعالی یې ستره بریا په برخه کړه، شاوخوا سل زره صلیبیان اسیران شول او لس زره ووژل شول. خپله پاچا (لویس نهم) هم ونیول شو او په منصوره کې د

«ابن لقمان» په کور کې بندي کړل شو. وروسته «نهم لویس» د څلویښت زره( ۴۰ ) زره دینارو په بدل کې ځان خلاص کړ او آزاد شو. دا بریا د مسلمانانو لپاره لویه لاسته راوړنه وه او د صلیبیانو پر مورال یې سخت اغېز وکړ.

داسلام ستر فاتح او مجاهد عماد الدين زنكي رحمه الله،له صليبي لښكرو سره تر سختو جګړو وروسته ځينې ښارونه او عمارتونه بېرته ونيول؛ تر ټولو مهم يې د«الرها» عمارت و. وروسته د نورالدين زنكي ځای ناستي نورالدين محمود رحمه الله د فرنګيانو پر ضد مبارزه روانه وساتله او دمشق ترخپل نفوذ لاندې راوست،خو د سلطان عماد الدين زنكي رحمه الله مخكې له دې چې بيت المقدس فتحه کړي او د هغه په امر جوړ شوی منبرهلته ودروي په ٥٩٤هـ کې وفات شو او د بيت المقدس فتحه يې په زړه کې ارمان پاتې شو،خو دسلطان عماد الدين زنكي خوب د هغه څخه وروسته مجاهد قوموندان صلاح الدين الأيوبي رحمه الله ريښتيا کړ.

له حطين وروســـته د صـــلاح‌الدين پر وړاندې يوازينی موخه د بيت‌المقدس نيول ؤ . لومړی يې لاندې قلاګانې او ښـــارونه ونيول:«طبرية» ،«عكا» ، «الناصرة»، «قيساريه»، «حيفا»، «صيدا» او «بيروت» تر خپل واک لاندې راوستل.

ددې څخه وروسته صلاح الدين الايوبي د بيت‌المقدس نيولو ته مخه کړه. صليبيان د ښار دننه ټينګ شول، نو صلاح‌الدين «جبل الزيتون» د خپل پوځ مرکز وګرځاوه او د منجنيقونو په وسيله يې د ښار دېوالونه په ډېرو وويشتل.

د بيت المقدس ښـار مدافعين وتښـتېدل، مسـلمانان په دېوالونو ور داخل شـو، او بالاخره صـليبيانو د سـولې غوښـتنه وکړه، صـلاح‌الدين د سولې غوښتنه ومنله. هوکړه داسې وشوه چې صليبيان به په امن کې له ښار څخه وځي، په دې شرط چې هر سړی لس ديناره، هره ښځه پنځه ديناره، او هر ماشوم دوه ديناره د جزيې په توګه ورکړي.

له ښار څخه د وتونکو کسانو په منځ کې «لوی بطريق» هم موجود ؤ ، هغه غوښتل چې د کليساوو مالونه او هغه شتمنۍ يې له ځان سره يوسي، چې صليبيانو مخکې له مسجدونو څخه را ټولې کړې وې.

په دې ډول بيت المقدس بېرته د مســـلمانانو لاس ته ولوېد، او دا بريا د اســـلامي تاريخ له تر ټولو مهمو لاســـته راوړنو څخه وګرځېده.

**د صـلاح الدين الايوبي مهرباني :** په ځينو رواياتو کې راځي،چې د اشرافو او د اميرانو ښځو ، کله چې له بيت المقدس څخه وتلې، صلاح الدين الأيوبي ته وويل:«اې سلطانه! تا پر موږ ژوند وبخښه، خو موږ به څنګه ژوند وکړو، حال دا چې زموږ مېړونه او زامن ستا په اسارت کې دي؟ که موږ دا خاوره د تل لپاره پرېږدو، نو څوک به زموږ د ساتنې، کار او روزګار لپاره راسره وي؟ اې سلطانه! زموږ مېړونه او زامن موږ ته راوبخښه؛ ځکه که داسې ونه کړې، موږ به سپکاوي او لوږې ته پرېږدې.»صلاح‌الدين له دې خبرو ډېر اغېزمن شو او د لوی زړه له مخې يې د هغوی مېړونه وبخښل او خوشې يې کړل.

اې صلاح‌الدين ! الله دې درباندې رحم وکړي؛ ته د رحم، ښېنې او نېک اخلاقو ژوندی مثال وې، او د اسلامي تمدن د اصولو او د اسلام د عظمت ښه بېلګه وې.او وګورئ هغه لوېديځ تمدن ته چې په عراق او افغانستان کې وچ او لانده هر څه يې له منځه ويوړل او که وګورو, په فلسطين کې صهيونيستي پوځي ماشين څه کوي؛ نه د ملکي او نظامي تر منځ توپير کوي، بلکې آن شيدې خوړونکي ماشومان هم په نښه کوي.

**اقول قولي هذا ، استغفر الله لي ولكم ولسائر المسلمين ، واستغفروه انه هو التواب الرحيم**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته**